هفته واره رساله

# د الله پاک
# پهٔ لار کښې
# خوښ خيز ورکول

(د امير اهلسُنّت بيان)

- د اَبوذَر غِفاري رضي الله عنه ښکلے اوښ
- خوښ باغ بې د الله پاک پهٔ لار کښې ورکړو
- کوړ مسواک
- د مدينے مهے


شيخِ طريقت، اميرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابوبلال
محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د الله پاک پهٔ لار کښې خوښ خيز ورکول (1)

دُعائے عطّار: يا رَبِّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله " د الله پاک پهٔ لار کښې خوښ خيز ورکول " ولولي يا واوري د هغهٔ پهٔ رزق کښې برکت پيدا کړې او هغهٔ ته پهٔ خپله لاره کښې د زړهٔ د خوشحالئ نه د خپل خوښ خيز د ورکولو توفيق ورعطا کړې او سره د مور او پلار او خاندانه يې بے حسابه اوبخښې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضرت سَيِّدُنا ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چا چې پهٔ يو كتاب كښې پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک وليکلو د څو پورې چې زما نوم پهٔ هٔغه كتاب كښې وي فرښتے به د هغهٔ د پاره اِستغفار كوي- (معجم اوسط، 497/1، حديث: 1835)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

---

[1] ... دا بيان شيخِ طريقت، اميرِ اهلِ سنّت، د دعوتِ اسلامي باني حضرتِ علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رَضوي ضيائي دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه پهٔ 22 رَبيعُ الثاني كال 1411 ھ بمطابق 10 نومبر 1990ء د دعوتِ اسلامي پهٔ ورومبي مَدَني مركز جامع مسجد گلزارِ حبيب كراچئ كښې د عاشقانِ رسول پهٔ هفته واره د سُنّتو نه پهٔ ډکه اِجتماع كښې كړے وو، كوم چې د المدينة العلميه شعبې " بياناتِ اميرِ اهلِ سنّت " تيار كړے دے-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! عام طور زمونږ دا عادت دے چې مونږ د الله پاک پهٔ لار کښې پاتې شوے مال ورکوو مثلاً خوراک مو اوکړو او بیا د هغې ضرورت نهٔ وي پاتې نو پاتې شوے خوراک چا غریب له ورکړو، دغه شان پهٔ کور کښې یو څیز پروت دے او هغه زمونږ د کار نهٔ دے نو هغه یو جومات یا مدرسې له ورکړو، داسې د وادهٔ ښادۍ وغیره څهٔ دستوره وشوه او د میلمنو د پاره ښهٔ ډیر خوراک تیار کړے شو، بیا پهٔ اتفاقي توګه څهٔ پیښه رامخې ته شوه یا باران وشو د کوم پهٔ وجه چې خلق کم راغلل او ډیر څلور دیګونه پاتې شول نو بیا هٔغه پاتې شوي دیګونه یتیم خانو یا اسپتالونو ته ورکولے شي، داسې دلته عام طور هم دا طریقه ده چې مونږ د الله پاک پهٔ لار کښې هٔغه څیز ورکوو کوم چې زمونږ د کار نهٔ وي- د دې خِلاف به زمونږه اسلافو پاتې شوي نهٔ بلکې د ټولو نه غوره، ښهٔ او پهٔ کار راتلونکي څیزونه د الله پاک پهٔ لار کښې ورکول- د ترغیب د پاره پهٔ دې لړ کښې یوه ایمان تازه کوونکې واقعه وړاندې کولے شي:

## د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ښکلے اوښ

حضرت سَیِّدُنا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د مدینے منورې سره نزدې پهٔ یو کلي کښې اوسیدو- د ژوند تیرولو د پاره د هغوئي سره یو څو اوښان او یو کمزورے شان شپونکے (چیلۍ څروُنکے) وو- یو ځل د بنو سُلیم خاندان یو صاحب د هغوئي پهٔ خِدمت کښې عرض اوکړو: حضور! که تاسو اِجازت راکړئ نو زهٔ به ستاسو پهٔ صحبت کښې پهٔ پاتې کیدو ستاسو نه فیض هم حاصلووم او ستاسو د شپونکي مدد به هم کووم- اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وفرمائیل: که تهٔ زما سره اوسیدل غواړې نو تهٔ به زما تابعداري کوي - عرض یې اوکړو: حضور! پهٔ کومه خبره کښې تابعداري؟ اِرشاد یې وفرمائیلو: کله چې زهٔ پهٔ خپل مال کښې د څهٔ څیز د

الله پاک پۀ لاره کښې د ورکولو ووايم نو د ټولو نه بهترين څيز به ورکوي- هغۀ دا شرط منظور کړو او د هغوئي پۀ خِدمت کښې يې اوسيدل شروع کړل- يوه ورځ چا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته عرض اوکړو: دلته د وَلِې پۀ غاړه څۀ غريبان خلق اباد دي که کيدے شي نو تاسو د هغوئي مدد اوکړئ- هغوئي د بنو سُليم قبيلې هُغه ګَس کوم چې د هغوئي خِدمت کولو راوغوښتو او اوئې فرمائيل: **يو اوښ راوله-** هغه د اوښانو ځائے ته لاړو او د ټولو نه ښۀ اوښ يې خوښ کړو خو بيا يې سوچ اوکړو چې دا اوښ د اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سورلۍ د پاره هم پکار دے او فرمانبردار هم دے- مقصد خو صرف غوښه تقسيمول دي نود هغې پۀ بدله کښې د هغې ه نه د ښکته درجې والا اوښه پيش کړه- اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله اوښه وليدله نو هُغه صاحب ته يې وفرمائيل چې تا خيانت اوکړو- هغه فوراً پوهه شو او هُغه اوښ کوم چې د ټولو نه بهترين وو، د ذبح کولو د پاره يې پيش کړو- اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغۀ ته اِرشاد وفرمائيلو: د وَلِې پۀ غاړه چې څومره کورنۍ ابادې دي ټول وشميره او زما کور هم پۀ هغې کښې شامل کړه، بيا اوښ ذبح کړه او غوښه يې پۀ ټولو کورونو کښې يو شان تقسيم کړه او زما کور ته چې هم د نورو کورونو پۀ مقابله کښې يو پوټے هم زيات لاړ نشي د دې خيال ساته-

کله چې د اوښ غوښه تقسيم کړے شوه نو اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هُغه ګَس راوغوښتو او پوښتنه يې ترينه وکړه: ستا او زما ترمينځه چې د الله پاک پۀ لاره کښې د ښۀ مال لګولو کوم شرط مقرر کړے شوے وو، آيا تا هغه هير کړے وو؟ هغه عرض اوکړو: حضور! زما نه نۀ وو هير شوي بلکې ما ته ياد وو او ما د دې نه مخکښې هم دا ښۀ اوښ خوښ کړے وو خو بيا مې سوچ اوکړو چې دا ستاسو سورلۍ ده او ډير پکار راتلونکے هم دے ځکه صرف ستاسو د ضرورت له

وجهې مې دا پريښودے وو- اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هغوئي ته وفرمائيل: آيا واقعي تا صرف زما د ضرورت له وجهې هُغه اوښ پريښودے وو؟ عرض يـې اوکړو: آؤ جي! واقعي چې ستاسو د ضرورت له وجهې مې هُغه اوښ پريښودے وو، د دې نه علاوه مې بَل هيڅ مقصد نهٔ وو- اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اِرشاد وفرمائيلو: آيا زهٔ تا ته د خپل ضرورت ورځ اوښايم؟ واوره! زما د ضرورت او د حاجت خو هُغه ورځ ده پهٔ کومه ورځ باندې چې زهٔ د قبر پهٔ کنده کښې يواځې دفن کړے شم، باقي پاتې شو مال، نو د دې درې حصه دار دي: ﴿1﴾ "تقدير" کوم چې د مال پهٔ وړلو کښې د چا څهٔ لحاظ نهٔ کوي ﴿2﴾ "وارث" کوم چې ستا د مرګ انتظار کوي چې کله به تهٔ مړ کيږې او هغه ستا مال قبضه کړي ﴿3﴾ دريم حصه دار تهٔ پخپله يـې (کله چې تقدير او وارث د مال اخستو پهٔ معامله کښې هيڅ رعايت نهٔ کوي نو تهٔ د خپلې حصې پهٔ اخستو کښې ولې شاته پاتې کيږې؟ څومره چې درنه کيدے د ښهٔ نه ښهٔ مال د الله پاک پهٔ لاره کښې ورکړه چې د خپل اخرت د پاره يـې جمع کړې-) پهٔ دې فرمائيلو اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د څلورمې سيپارې وړومبے آيت مبارک تلاوت وکړو: ﴿لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ﴾ (پ 4، سورۃ اٰل عمرٰن: 92)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: "تاسو به هيڅ کله نيکي اونه مومئ تر څو پورې چې د الله پهٔ لاره کښې خپل خوښ څيز خرچ نهٔ کړئ-" او اوئې فرمائيل چې هم دا وجه ده چې کوم مال زما د ټولو نه زيات خوښ وي هغه د الله پاک پهٔ لار کښې خرچ کووم او د خپل اخرت د پاره يـې ذخيره کووم- (تفسير درمنثور، پ4، اٰلِ عمرٰن، تحت الاية: 92، 2/261)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د سَیِّدُنا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ څومره زبردست مَدَني سوچ وو چې کوم مال به يـې د ټولو نه زيات خوښ وو هغه به يـې د الله پاک پهٔ لاره کښې خرچ کولو او د خپل اخرت د پاره به يـې ذخيره

کولو- اے کاش چې زمونږه سترګې وغړیږې او مونږ هم په دې آیت مبارک:
﴿لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ۬ؕ﴾ (پ4، سورۂ اٰل عمرٰن: 92) **ترجمہ کنزُالعِرفان:** " تاسو به هیڅ کله نیکي اونه مومیۍ تر څو پورې چې د اللّٰه په لاره کښې خپل خوښ څیز خرچ نۀ کړیۍ-" باندې غور کوونکې جوړ شو- یاد ساتئ چې د اللّٰه پاک په لاره کښې چې څنګه څیز ورکوئ هم هغه شان اَجر به بیامومیۍ ولې چې دُنیا د اخرت کښت [یعنې پټے] دے چې څۀ کرې هغه به رِیبې- (فیض القدیر، 728/3، تحت الحدیث: 4273 ملخصاً)

افسوس چې زمونږ سوچ دا دے چې مونږ د وادۀ ښادۍ په موقع باندې وړومبے پخپله وخورو او بیا پاتې شوے خوراک نوکرانو، غریبانو، ګاؤنډیانو، یتیم خانو او مدرسو له ورکوو- پکار خو دا وو چې چرته مونږ په وادۀ باندې په لکونو روپۍ لګوو هلته کم از کم یو دیګ په دې نیت باندې پوخ کړو چې دا به صرف د محلې غریبانو خلقو له ورکوو-

## وړومبے نصیحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** سَیِّدُنا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په خپل خدمت کښې اوسیدونکې کَس ته درې خبرې اِرشاد کړې: په هغې کښې وړومبۍ خبره دا وه چې " تقدیر په مال وړو کښې د چا لحاظ نۀ کوي-" واقعي چې هم داسې ده تقدیر چې کله هم وغواړي نو ډیر په پراخه زړۀ د چا مال واخلي او هم داسې په لږ ساعت کښې د خلقو د کروړونو بلکې د اربونو روپو " کارخانې" وسوزي اِیره شي- تقدیر نۀ د مالداره او غریب خیال ساتي او نۀ موقعې او ځائے ته ګوري هغه خپله پوره حصه اخلي- تقدیر چې کله غالب شي نو خوشحاله خندیدونکے ځوانان په لږ ساعت کښې د مرګ ښکار شي- په تیر وخت کښې ډیر داسې ځوانان لیدلے شوي دي چې مور او پلار به د دې د پاره د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکو

اِجتماعاتو ته نۀ ليږل چې چرته د هغوئي نه مُلا جوړ نۀ شي او دِين داره نۀ شي، آه! خوار پهٔ کچه ځوانئ کښې وفات شو-

## دويم نصيحت

سَيِّدُنا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پهٔ خپل خِدمت کښې اوسيدونکي ته دويمه خبره دا اِرشاد کړه چې ستا د مال دويم حصه دار " وارث " دے کوم چې ستا د مرګ انتظار کوي چې کله به تهٔ مړ کيږې او ستا مال به قبضه کوي- واقعي ده چې دا ليدلے کيږي چې وارثان د دې خبرې اِنتظار کوي چې څنګه بوډا مور او پلار وفات شي، مونږ به د دوئي مال او اسباب قبضه کړو- اِنسان پهٔ ټول ژوند کښې مال جمع کوي خو هغهٔ ته پته نۀ وي چې د هغهٔ د وفات نه پس به وارثان د هغهٔ د مال سره څهٔ سلوک کوي؟ بعضې وخت خو وارثان د مړي پهٔ مال ناجائزه کاروبار هم شروع کوي-

د يو کَس ډير مذهبي ذِهن وو او هغه به د دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته واره د سُنَّتو پهٔ اِجتماع کښې شرکت هم کولو، هغه د وفات کيدو نه مخکښې يو دُکان واخستو او بيا څهٔ موده پس ډير سخت بيمار شو او د مرګ ښکار شو- د هغهٔ د وفات نه پس د هغهٔ يو څو وارثانو د هغهٔ د پريښودے شوي مال نه پهٔ هُغه دُکان کښې د فلمونو، ډرامو او سندرو سازونو د ويډيوګانو کيستې خرڅول شروع کړل حالانکې وفات شوي کَس به حلال رزق ګټلو او د حرامو د رزق ګټلو نه به يې ډير ځان ساتلو-

بهر حال وفات شوے کَس چې کوم مال پريږدي هغه د وارثانو دے، هغوئي چې د هغې سره هر قِسمه سلوک کوي د هغوئي خوښه ده، که وفات کيدونکي د خپلو وارثانو صحيح تربيت اونکړو نو ډيره ګرانه ده چې هغوئي هغه پهٔ صحيح ځائے کښې اِستعمال کړي بلکې هُغه مال د هغوئي د پاره پهٔ ګناهونو کښې

مددګار ثابتیدے شي، هم دغه وجه ده چې کله د حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدُ العزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه پهٔ خدمت کښې مَسلَمَه بن عبدُ المَلِک حاضر شو او عرض یې اوکړو: حضور! تاسو د خپل اولاد پهٔ معامله کښې ما ته او نورو خلقو ته وصیت اوکړئ چې مونږ ستاسو نه پس د هغوئي د وخت د تیرولو اِنتظام اوکړو، پهٔ دې اوریدو حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه اِرشاد وفرمائیلو: د عمر پهٔ اولاد کښې هم دوه قِسمه اِنسانان کیدے شي: نیک یا بد، که هغه نیکان وي نو ما ته د هغوئي د فِکر کولو ضرورت نشته ځکه چې الله پاک به هغوئي پخپله مُستَغنِي [یعني مالداره] کړي او که هغوئي بد وي نو زهٔ ولې هغوئي ته پهٔ مال ورکولو د الله پاک پهٔ نافرمانۍ کښې د هغوئي مدد اوکړم- (مکاشفة القلوب، ص143 ملخصاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله پاک پهٔ لاره کښې که مال لګول وي او که پهٔ فضول کارونو کښې، د مال لګولو پهٔ معامله کښې عام طور د بوډاګانو پهٔ مقابله کښې د ځوانان زړونه پراخه وي لهذا که چرې پلار د مذهبي ذِهن والا نهٔ وي او هغهٔ د اولاد صحیح تربیت نهٔ وي کړے نو د هغهٔ د وفات کیدو نه پس اولاد پهٔ ګناهونو کښې ښه ډیر مال الوځوي، که پلار ډیر زیات سرمایه دار وي او بوډا هم وي نو غیر تربیت یافته اولاد پهٔ ظاهره "بابا، بابا" کوي خو پهٔ حقیقت کښې د دې خبرې اِنتظار کوي چې کله به "بابا جان" زمونږ د لارې نه اخوا کیږي چې مونږه مزې شروع کړو ځکه چې "بابا جان" ډیر شوم دے، هغه زمونږ د عیاشو ترمینځه خنډ [یعني رکاوټ] جوړیږي-

## دریم نصیحت

سَیِّدُنا اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ پهٔ خپل خِدمت کښې اوسیدونکي ته دریمه خبره دا اِرشاد کړه چې ستا د مال دریم حصه دار تهٔ پخپله یې- (یعني کله چې

تقدير او وارث د مال اخستو پهٔ معامله کښې هيڅ رعايت نهٔ کوي نو تهٔ د خپلې حصې پهٔ اخستو کښې ولې شاته پاتې کيږې؟ خومره چې درنه کيدے د ښهٔ نه ښهٔ مال د الله پاک پهٔ لاره کښې ورکړه چې د خپل اخرت د پاره يـې جمع کړې-)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د سَيِّدُنا ابو ذَر غِفاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ شان پهٔ نورو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم کښې هم د قربانۍ جذبه ډيره زياته وه- پهٔ دې باره کښې د سَيِّدُنا اَبُو طَلحَه اَنصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د قربانۍ يوه اِيمان تازه کوونکې واقعه ولولئ او پهٔ خپل زړهٔ کښې د قربانۍ ذخيره جمع کړئ:

## خوښ باغ يـې د الله پاک پهٔ لار کښې ورکړو

حضرت سَيِّدُنا اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې حضرت سَيِّدُنا اَبُو طَلحَه اَنصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان کښې د ټولو نه زيات مالداره وو او د ټولو نه زيات باغونه هم د هغوئي وو، د هغوئي سره يو ډير ښکلے باغ وو د کوم نوم چې ”بَيرُحَا“ وو، د دې باغ اوبهٔ ډيرې خوږې وې او دې باغ ته دا سعادت هم حاصل وو چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دې باغ ته تشريف راوړلو او د دې نه به يـې اوبهٔ څښلې، بيا چې کله دا آيت مبارک نازل شو: ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ۬ؕ﴾ (پ 4، اٰلِ عمرٰن:92) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ”تاسو به هيڅ کله نيکي اونه مومۍ د خو پورې چې د الله پهٔ لاره کښې خپل خوښ څيز خرچ نهٔ کړئ-“ نو سَيِّدُنا اَبُو طلحه اَنصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض يـې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما پهٔ خپلو ټولو باغونو کښې ”بَيرُحَا“ د ټولو نه زيات خوښ دے او الله پاک اِرشاد فرمائيلے دے چې خپل خوښ څيز دې د هغه پهٔ لاره کښې ورکړے شي نو زهٔ خپل د ټولو نه خوښ باغ ”بَيرُحَا“ د الله پاک پهٔ لار کښې صدقه کول غواړم- د مدينے سرکار

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر خوشحاله شو او اوئې فرمائيل چې دا پهٔ خپلو عزيزانو او خپلوانو تقسيم کړه نو سَيِّدُنا اَبُو طَلحَه اَنصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ هُغه باغ پهٔ خپلو خپلوانو تقسيم کړو- (بخاری، 493/1، حديث:1461 ملتقطاً)

**اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم عاشقانو!** تاسو وکتل چې سَيِّدُنا اَبُو طلحه اَنصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ چې د قرآنِ پاک يو آيت واوريدو نو فوراً يې خپل د ټولو نه خوښ باغ د الله پاک پهٔ لار کښې صدقه کړو خو مونږ بيا بيا د د قرآنِ پاک د آيتونو د اوريدو باوجود پهٔ دې باندې عمل نهٔ کوو- لږ غور اوکړئ چې چرته د قرآنِ پاک د يو آيت پهٔ مونږ باندې څهٔ اَثر وشو؟ مثلاً هم د دې آيت مبارک ﴿لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰى تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ﴾ (پ 4، اٰلِ عمرٰن:92) **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** "تاسو به هيڅ کله نيکي اونه مومئ د څو پورې چې د الله پهٔ لاره کښې خپل خوښ څيز خرچ نهٔ کړئ-" پهٔ اوريدو پهٔ مونږ باندې اثر شوے وي چې مونږ خپل خوښ څيز د الله پاک پهٔ لار کښې صدقه کړے وي مثلاً خپله خوښه کړې، رومال يا پين وغيره مو د الله پاک پهٔ لار کښې ورکړې وي؟ ياد ساتئ چې صرف هُم چا مسکين يا فقير له ورکول د الله پاک پهٔ لاره کښې ورکول نهٔ دي بلکې که چا پيژندګلو اِسلامي ورور له مو خپل څهٔ خوښ څيز پهٔ تحفه کښې ورکړو نو دا هم د الله پاک پهٔ لار کښې ورکول شو او پهٔ دې باندې به هم ثواب ميلاؤيږي، صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم څومره د ژوندي زړهٔ والا وو چې کله به يې د قرآنِ پاک يو آيت مبارک يا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څهٔ اِرشاد اوريدو نو فوراً به د هغې اثر د هغوئي پهٔ زړونو باندې کيدو او هغوئي به پهٔ هغې باندې عمل کولو، لږ سوچ اوکړئ چې آيا چرته د يو آيت مبارک يا د حديثِ پاک پهٔ اوريدو زمونږ پهٔ زړهٔ کښې هم پهٔ هغې باندې فوراً د عمل کولو خيال راغلے دے؟ کيدے شي چې

چرې هم نهٔ وي راغلے، افسوس چې پهٔ مونږ. باندې اثر نهٔ کيږي، زمونږ زړونه اوس ژوندي نهٔ دي پاتې او د بده مرغه زمونږ د ايمان طاقت بالکل کمزورے شوے دے۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هم خومره ښکلې قرباني فرمائيله:

## کوږ مِسواک

يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سفر باندې وو، هغوئي دوه مسواکونه حاصل کړل پهٔ کومو کښې چې يو سيدها وو او بل لږ کوږ وو، نو رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه سيدها مِسواک خپل ملګري ته عطا کړو او کوم چې کوږ وو هغې يې د ځان سره کړو، صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: تاسو به سيدها مِسواک ساتلے وے او ما ته به مو کوږ راعطا کړے وے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: کله چې دوه مسافر يا دوه مسلمانان د لږ ساعت د پاره يو ځائے اوسيږي او پهٔ هُغه وخت کښې چې هغوئي د يو بل سره څنګه سلوک کوي نو د قيامت پهٔ ورځ باندې به د هغې پهٔ باره کښې هم پوښتنه کولے شي۔ (احياء العلوم، 218/2 ملخصاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ چې د خپل ملګري سره زمونږ سلوک څنګه وي؟ د نورو د حقونو خيال ساتل خو غټه خبره ده نن سبا خو د مور او پلار سره هم بدتميزي کولے شي۔ مور که څهٔ خبره کوي نو هغه فوراً رټلے کيږي، پلار که څهٔ وائي نو هغه له هم پهٔ ترس جواب ورکولے شي او خوئيندې او ورونړه که څهٔ وائي نو هغوئي هم رټلے کيږي، که پهٔ کور کښې څهٔ خبره کول وي نو بغير د رټلو نه نهٔ کيږي او سخته رويه اختيارولے شي مثلاً دا کار دې ولې اونکړو؟

دا څیز دلته ولې پروت دے؟ دا ځائے دې ولې نهٔ دے صفا کړے؟ وغیره وغیره، کوم نادانه چې په خپلو کورونو کښې داسې سخته رویه اختیاروي نو کور والا د هغوئي نه نفرت شروع کوي۔

داسې ځلمے د کوم چې په کور کښې د جنګ جګړو او د بد اخلاقئ کولو عادت وي که په اتفاقي توګه د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي دِیني ماحول ته راشي، په مخ باندې د سُنَّت مطابق ږیره پریږدي او په سر باندې عمامه شریف په سر کړي خو د دې باوجود هغه د کور والؤ سره سخته رویه اختیار کړي نو کور والا یې د دعوتِ اِسلامي په دِیني ماحول تنقتید شروع کړي۔ یاد ساتئ چې د دعوتِ اِسلامي دِیني ماحول ته د راتلو سره یو دم ټولې خرابیانې نهٔ لرې کیږي بلکې په ورو ورو لرې کیږي۔

که څوک په دعوتِ اِسلامي باندې تنقید کوي نو د هغه سره د جنګ جګړو کولو په ځائے خپلې خامیانې لرې کول پکار دي او تنقید کوونکو ته وئیل پکار دي چې که زمونږ د خامیانو په وجه تاسو ته تکلیف در رسیدلے وي نو مونږ معاف کړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! بیا به درته تکلیف نهٔ در رسیږي۔ کوم اِسلامي ورونړه چې په دعوتِ اِسلامي باندې تنقید کوونکو ته دهمکې ورکوي مثلاً مونږ به داسې اوکړو یا هغسې به اوکړو، که په کور والؤ کښې څوک دعوتِ اِسلامي ته ردې بدې ووائي نو هغوئي داسې ویروي چې مونږ به د کور نه وتښتو یا به د کور لوښې مات کړو وغیره وغیره نو داسې خلقو ته د حکمت او عقلمندئ نه کار اخستل پکار دي او د دهمکې د لهجې د اختیارولو په ځائے تنقید کوونکي په مینه او محبت سره پوهه کول پکار دي۔ وګورئ چې د څو پورې د خلقو مخې ته زمونږ ښه کردار نهٔ وي راغلے او په نفرتونو ختمولو د محبت شمعې نهٔ بلوو نو د هغې پورې به رښائي نهٔ راځي بلکې هم تیارهٔ به وي ځکه د ظاهر او د باطِن دواړو اِصلاح ضروري ده۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مشهور صحابي حضرت سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما به هم ډيره قرباني کوله:

## د مدينے مهے

يو ځل سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما بيمار شو نو سَیِّدُنا نَافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته يې فرمائيل: زما د وريت کړے شوي مهي د خوړلو خواهش دے، په هغه ورځو کښې په مدينه منوره کښې مهيان نۀ وو، حضرت نافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ډير ولټولو خو اخر په يو نيم درهم يو مهے ميلاؤ شو- حضرت نافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما وريت کړو او د سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما په دربار کښې مې حاضر کړو، په دې کښې يو فقير راغلو نو حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما وفرمائيل: دا مهے هغه له ورکړه، ما عرض اوکړو: حضور! ډير په مشکله مې پيدا کړےدے او ستاسو خواهش هم دے ځکه زۀ د دې مهي قيمت دې فقير له ورکووم، هغوئي وفرمائيل: نۀ دۀ له دا مهے ورکړئ نو مهے هغۀ له ورکړے شو، هغه فقير لاړو نو سَیِّدُنا نَافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په هغۀ پسې شاته لاړو او د هغۀ نه يې په دوه نيم درهمه بيرته مهے واخستو او بيا يې حاضر کړو، سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما پوښتنه اوکړه: دا مهے واپس څنګه راغلو؟ نو هغوئي عرض اوکړو: حضور! ما د فقير نه په دوه نيم درهمه اخستے دے، سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما وفرمائيل: دا مهے هم هغۀ له ورکړه او دوه نيم درهمه هم د هغۀ نۀ مۀ اخله ځکه چې ما د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې څوک د خپل خواهش څيز پريږدي، الله پاک هغه بخښي-

(احياء العلوم، 114/3 ملخصاً)

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تاسو وکتل چې سَیِّدُنا عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما د خواهش باوجود مهے اونۀ خوړلو او هغه يې د الله پاک په لار

کښې ورکړو- اے کاش چې مونږ هم داسې جوړ شو چې که زمونږ مخې ته زمونږ د خوښې څيز موجود وي، د هغې پهٔ ليدو زمونږ زړهٔ هم ګرځيږي ، طبيعت هم هُغه طرف ته مائل کيږي، د هغې خواهش هم وي خو ناڅاپه مونږ ته دا حديث مبارک " څوک چې د خپل خواهش څيز پريږدي الله پاک به هغه اوبخښي-" (الکامل فی ضعفاء الرجال، 223/6 ملخصاً) راياد شي او مونږ خپل هُغه د خوښې څيز چا مسلمان يا ګاؤنډي يا کشرانو خوئيندو وروڼو له پهٔ تحفه کښې ورکړو چې پهٔ کور والؤ باندې صدقه کول ډير د ثواب کار دے نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! دا د بخښنې زيرے به زمونږ د پاره هم وي-

د بده مرغه زمونږ حالت د دې نه اُلټا دے، کله چې مونږ د خوراک د پاره کښينو نو ښهٔ ښهٔ پوټې ځان ته نزدې کړو، که د الله پاک پهٔ لار کښې د ورکولو اِراده هم وي نو چې کوم خوراک پاتې شي هغه راواخلو او چا غريب له يې ورکړو- افسوس چې زمونږ خيرات هم داسې کيږي چې د څو پورې خوراک زمونږ پهٔ کار دے نو د ځان سره يې ساتو او کله چې د خرابيدو خطره وي نو خيرات يې کړو- نن سبا پهٔ هر کور کښې فريج موجود دے نو چې کوم خوراک پاتې شي هغه پهٔ فريج کښې کيږدي، بيا چې کله د هُغه خوراک پهٔ فريج کښې درې څلور ورځې وشي او د هغې پهٔ خوند کښې فرق راشي د هغې خوړل ښه نهٔ لګي نو هله غريب له ورکولے شي-

الله پاک دې مونږ ته پهٔ خپله لاره کښې د خوښ څيز د صدقه کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله





فیضان مدینه محله سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net